د هغه چا مثال چې د الله جل جلاله له حدودو سره ودريږي او هغه څوک چې پکې ښکېل کيږي د هغه قوم په څېر دی چې په يوه کښتۍ کې قرعه اندازي وکړي، نو ځينو ته يې پورتنۍ برخه ورسيږي او ځينې نورو ته لاندينۍ برخه ورسيږي

له نعمان بن بشير رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "د هغه چا مثال چې د الله جل جلاله له حدودو سره ودريږي او هغه څوک چې پکې ښکېل کيږي د هغه قوم په څېر دی چې په يوه کښتۍ کې قرعه اندازي وکړي، نو ځينو ته يې پورتنۍ برخه ورسيږي او ځينې نورو ته لاندينۍ برخه ورسيږي، نو هغه خلک چې په لاندې طبقه کې دي کله چې اوبو ته اړتيا پيدا کوي په پاسنيو خلکو تيريږي، نو (خپلو کې سره) ووايي: که چېرته مور په خپله برخه کې سوری کړی وای نو پورته خلک به مو نه ازارول، نو که چېرته يې پريږدي چې هغه کار وکړي د کوم چې اراده لري نو ټول به هلاک شي، او که چېرته يې لاسنيوی وکړي ټول به وژغورل شي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو کسانو مثال بيان کړی چې د الله تعالی له حدودو سره ودريږي (او نه تري تېريږي)، چې هغوی د الله په امر ولاړ دي، په نيکۍ امر کوي او له بديو څخه منع کول کوي. او د هغه چا مثال چې د الله په حدودو کې ښکېل وي، نيکي نه کوي او منع شوي کارونه تر سره کوي، او د ټولنې په ژغورلو د دې کار اغېز، د داسې يو قوم په مثال دی چې کښتۍ ته پورته شي او پدې سره قرعه واچوي چې څوک پورته کښېنې او څوک ښکته، نو ځينو ته پورته برخه ورسيږي او ځينو ته ښکته، نو هغه خلک چې لاندې وي کله چې اوبه راوړي په پورتنيو خلکو تيريږي، نو هغه کسان چې لاندې دي ووايي: که چېرته مور په خپل ځای کې سوری کړی وای چې اوبه تري وڅښو، نو پورته خلک به مو نه ازارولی، نو که چېرته يې پورتني خلک دې کار ته پريږدي، نو کښتۍ به په ټولو غرقه شي، او که چېرته يې لدې کار څخه منع کړي او پرې يې نه ږدي، نو دواړه ډلې به وژغورل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3341

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee